مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد صدیق روهي ۲۰۱۹/۰۴/۰۶

# د پټې خزانې ارزښتونه

## ليکوال: ارواښاد کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي

## د «ادبي تحليلونه» له کتاب څخه

### د کتاب سره پيژندګولي:

«پټه خزانه» د پښتو ادبياتو په هسک کي يو ځلانده لمر دی چي يو شمېر ادبي شخصيتونه يي د نوموړی له تروږمی څخه را وايستل او نړيوالو ته يي ورو پيژندل.
«پټه خزانه» د پښتني ثقافت د غوره ارزښتونو هينداره ده. په دې ارزښتناک اثر کي نه يوازې د پښتو ادب نوميالي استازي معرفي شوي دي، بلکی د پښتو ژبې لغوي پانګه، تاريخي اتلان، ادبي ذخيرې، اولسي وياړني، او کلتوري ارزښتونه هم پکښې منعکس شوي دي. د دې اثر اهميت له دې څخه ځرګنديږي چي په تيرو څلوېښتو کلونو کې دغه کتاب څلور ځله چاپ شوی دی او دا زمونږ په مطبوعاتو کې ساری نه لري.
«پټه خزانه» د ژبنيو، ادبي، تاريخي، او کلتوري ارزښتونو خزانه ده، لکه د کتاب له سريزې څخه چي ځرګنديږي د «پټه خزانې» ليکنه د (۱۱۴۱) هـ ق د جمادي الثاني د مياشتي په شپاړسمه د جمعي په ورځ پيل شوی ده او د کتاب په پای کې عبارت راښيي چي د (۱۱۴۲) هـ ق کال د شوال د مياشتي په څلرويشتمه د جمعې په ورځ پای ته رسيدلې ده. له قريني څخه ښکاري چي مولف متعارف نوم به «محمد خان» و ځکه له يوې خوا يې پلار او نيکه داود خان او قادر خان نوميږي او له بلې خوا د کتاب د متن په اساس، د هغه وخت د اشخاصو نومونه معمولاً له دوو مستقلو نومونو څخه ترکيب شوي دي، لکه د ده د معاصرينو دا نومونه: بهادر خان، محمد صديق، پير محمد، غياث خان، ريدی خان، محمد اياز، سيدال خان (ناصر)، او داسې نور. ښايي چي ده به د تواضع له مخې خپل نامه څخه د(خان) کلمه ليرې کړې وي. په هر صورت، دا يو حدس دی چي پر قراينو باندې بنا شوی دی، ښايي سم نه وي. «پټه خزانه» د شاه حسين هوتک په دوره کې ليکل شوې ده او داسې ښکاريږي چي د دغه واکمن په دوره کې د پښتني فرهنګ د غني کولو د پاره يو آګاهانه جنبش پيل شوی و. د «پټه خزانې» له لوستلو څخه هر چا ته په آسانی سره دا واقعيت ورڅرګنديږي چي د پښتنو ثقافت ځانته مستقله ريښه لري، د تاريخ په بيلا بيلو پړاوونو کې يې خپل اصلي ماهيت ساتلی دی او د لرغوني آريايانو ارزښتونه يې په ځان کې ساتلي دي. په «پټه خزانه» کې سر تر پايه د يوه کهول د غړو تر مينځ د مينې او صميميت زمزمې اوريدل کيږي: مينه، لورينه، مرسته، ملاتړ، قومي غرور، غونډې، ناستې ولاړې، درانده خويونه، مهذبه وينا، دوستي، له ځانه تيريدنه او داسې نور ارزښتونه د کتاب مرکزي هسته ګڼل کيږي.
په لاندې کرښو کې به د «پټه خزانې» د ارزښتونو مختلف اړخونه وڅيړل شي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## میتودیک ارزښتونه:

په اکثرو لرغونو تالیفاتو کې د کتاب د لیکلو انګیزه یا علت، د محتویاتو یا د موضوع ماهیت، او کله کله نتیجه په سریزه کې ښودل کیږي. د لیکوال د افادې قدرت، د بیان د انسجام، او منطقي تسلسل له سریزې څخه په ښه ډول څرګندیږي. د پټې خزانې مولف د یوې دقیقې د سریزې د لیکلو ټول ضروري شرایط په پوره بلاغت او مهارت تر سره کړي دي. څرنګه چې پټه خزانه یو ادبي اثر دی او له ادب او وینا سره سر و کار لري نو په سریزه کې د وینا او ادبي کلام پر اهمیت باندې مدللې او منسجمې خبرې شوې دي. محمد هوتک د پټې خزانې سریزه په دغسې خوږو او متناسبو الفاظو پیل کړې ده:
«حمد و ثنا ده هغه خدای ته چې انسان یې په ژبه او بیان لوړ کا او تمیز یې ورکا له نورو حیوانانو په نطق او وینا سره او خپل کلام پاک یې نازل کا په افصح بیان سره چې هغه معجز او ابلغ دی له کلام د ټولو بلغا او فصحا سپاس دی هغه خاوند لره چې له ده نسته بل خاوند او نه بل بادار د وګړیو. ښتن دی چې انسانان په خوږو خبرو پالي او د هرې بلیغې وینا ملهم دی.»
د محمد دغه سریزه یو ادبي شهکار ګڼل کیږي. دلته د الفاظو مرغلرې د (بیان) په زرین مزي کې پېیل شوې دي او د وینا پر محور باندې راتاویږي، اما په عین زمان کې پخپله (وینا) د ښتن تعالی د ستر قدرت مظهر دی او د هغه ذات د فیض له منبع څخه نشأت کوي.*
پس له حمد و نعت څخه محمد هوتک بیرته (وینا) ته راګرځي او داسې وایي:
«اما بعد. په دې پوه سه چې وینا د انسان غوره خاصه ده او د نطق تاج هغه د کرمنا تاج دی چې خالق تعالی د آدم پر سر نسکور کړ او په هره زمانه کې خدای تعالی په انسانانو کې غوره شاعران او د وینا خاوندان پیدا کړل چې الشعراء تلا میذا الرحمن وګڼل سول او د دوی ویناوې هر کله داسې خوږې دي چې د انسان زړه انشراح به مومي او د خوږو زړو مرهم وي.»
په دې پورته عبارت کې (د کر منا تاج) د نطق په تاج باندې تعبیر شوی دی او د وینا خاوندان هم د دغه تاج بالاستحقاقه وارثان دي. نو له دغه منطقي قضیو څخه طبعا دا نتیجه لاس ته راځي چې شاعران او د بلیغې وینا خاوندان باید (تلامیذ الرحمن) او د مخلوقاتو اشرف او اکرم وي او ولې به نه وي ځکه چې د هرې بلیغې وینا الهام ښونکی پخپله هغه ذات دی چې د ده کلام ابلغ او معجز دی له کلامه د ټولو فصحاو او بلغاو څخه. **
د سریزې په همدې عبارت کې محمد هوتک شعر هم تعریف کړی دی. د ده په نظر، شعر هغه خوږه وینا ده چې د انسان زړه انشراح په مومي او خوږو زړونو مرهم وي. یا په بله ژبه، شعر هم د انبساط او فرحت وسیله ده او هم د تسکین علاج وسیله، شعر هم د خوند د پاره دی او هم د ژوند د پاره. ***
محمد د وینا او شعر د اهمیت له بیانولو وروسته د پټې خزانې د لیکلو انګیزه شرح کوي او داسې وایي:
« زه چې محمد هوتک یم او په اصل پښتون په قندهار کې اوسم له ډیره ده چې په ویلو د داسې وینا بخت یم او د شپې او ورځې مې دغه کار دی او دا ډیر وقتونه تیر سول چې ما غوښته چې زه د پښتنو شاعرانو تذکره وکاږم او د دوی احوال سره راټول کاندم مګر زمانې ما ته فراغ نه راکا او دا هیله مې په زړه کې وچه سوه ځکه چې پر قندهار د ظلم او جفا تورتم پروت و او هیچا آرام نه درلود او نه فراغ. ګاهې به مغولو چپاوونه کړل او ګاهې به د ګرګین د ستم سوران و اوس چې حق تعالی موږ خلاص کړو له هغو ظلمونو څخه او فارغ سو زړونه زموږ او زموږ ملک حاجی میرخان علیه الرحمه دوی له قندهاره ویاسته او پښتانه یې د دوی له جوره آزاد کړل او قلم مې را واخیست.... »
د محمد هوتک د سریزې ستره ښیګڼه دا ده چې فکري او منطقي تسلسل پکښې لیدل کیږي تصنع، تکلف، او زواید پکښې نشته او د مسجعو او مکررو فقرو او مترادفاتو نښې د هغه وخت د لیکنو په تناسب پکښې لږې دي. لنډه یې دا چې د سریزې سبک خوږ، روان، او محاورې ته نسبتاً نږدې دی یوازې د تقدیم او تاخیر په لحاظ د نورو ژبو تر اغیزې لاندې راغلی دی، لکه په دې عباراتو کې: او تمیز یې ورکاله نورو حیواناتو په نطق او وینا سره او فارغ سوه زړونه زموږ او زموږ ملک، نو یې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه وغوښتم خپل دربار ته، او داسې نور... په عمومي ډول، د کتاب مضمون او شکل یو له بل سره سمون خوري او د شکلیاتو برخه یې د هغه وخت لیکنو په تناسب ډیره موزونه او معقوله ده.
د پټې خزانې یو لوی مزیت دا دی چې مضمون او شکل دواړه د پښتني ثقافت په رنګ رنګیدلي دي او تقلیدي اړخ یې د اصلي اړخ تابع دی.
لنډه یې دا چې په سریزه کې د کتاب د لیکلو هدف، انګیزه، او موضوع په ښه توګه بیان شوي دي سربیره پر دې، د موضوعاتو تصنیف او تبویب هم پر علمي موازینو برابر دی. د کتاب لومړی برخه پخوانو شاعرانو ته وقف شوې ده، دوهمه برخه یې د معاصرو شاعرانو احوال بیانوي او په دریمه برخه کې یې ښځې شاعرانې معرفي شوې دي.
د «پټې خزانې» یو بل میتودیک ارزښت دا دی چې د بیوګرافي اصلي ارکان یې په نظر کې نیولي دي. تر کومه ځایه یې چې وسه رسیدلې ده د شاعر د اوسیدو ځای، د ژوند تاریخ او حالات، قومیت د شخصیت غوره اوصاف او د معلوماتو ماخذونه (کتاب یا روایت) یې په نښه کړي دي. البته د تذکرې لیکلو د معیارونو له مخې یوه تکې ته ګوته نیول کیدی شي او هغه دا چې د شاعرانو بیوګرافي په کرونولوجیک اساس نه ده ترتیب شوې. د مثال په توګه، بابا هوتک چې تر ټولو مخکې معرفي شوی دی په اوومه هجري پیړۍ کې دنیا ته راغلی دی په داسې حال کې چې امیر کروړ په دوهمه هجري پیړۍ کې ژوند کاوه او په (۱۳۹) هـ ق کې امارت ته رسیدلی دی. په همدې ډول نور مثالونه هم ډیر دي. کوم څیړونکي چې غواړي د پټې خزانې له مخه د پښتو شعر تطور او تحول مطالعه کړي باید کرونولوجیک لست یې پخپله تنظیم کړي.
د پټې خزانې پټې خزانې یو بل میتودیک ارزښت دا دی چې د کتاب کرکټرونه نورمال انسانان دي.
د دوی په کړو وړو کې مبالغې نه لیدل کیږي. البته د دوو یا درو تنو قهرمانانو په باره کې مبالغه شوې ده خو دا د محمد هوتک خپل نظر نه دی او هر ځای یې د (نقل کا) عبارت ورسره راوړی دی. دا مبالغه یو ځلې د امیر کروړ په برخه کې راغلې ده چې وایي په یوه تن به له سلو جنګاور سره جنګیدئ او بل ځای د نور بابا په برخه کې چې په ګوښې ځان یې له خپلې کلا څخه د یوې ډلې مغولانو په مقابل کې دفاع وکړه. په هر صورت، دغه ډول مبالغې دومره عادي او طبیعي ښکاري چې حتی په اوسنیو کیسو او فلمونو کې یې ډیرې زیاتې نمونې لیدلی شو. سره له دې، محمد هوتک احتیاط له لاسه نه دی ورکړی او په داسې مواردو کې د «نقل کا» له فقرې څخه استفاده کوي.
ځینې کسان د پټې خزانې ماخذونو ته ګوتې نیسي او وایي چې دغه ماخذونه چیرې دي؟ دا البته داسې موضوع ده چې ځانته جلا څیړنه غواړي خو دلته دومره یادونه کافي ده چې ځینې ماخذونه به ښایي چې له مینځه تللي وي او ځینې نور یې ښایي وموندل شي. په روانه پیړۍ کې د پښتو ژبې داسې نادر کتابونه وموندل شول چې پخوایي خلک فقط له نامه سره آشنا وو. د پیر روښان «خیر البیان» د لویدیځ آلمان په یوه کتابخانه کې وموندل شو. په دې نږدې وختونو کې به د خوشحال خان ځینې نوي آثار له چاپه راووزي. حتی د شیخ ملي د دفتر او په پټې خزانه کې د ځینو یادوو شوو کتابو د پیدا کیدو خبرې هم په دې ورځو کې اوریدل کیږي. څرنګه چې دغه موضوع ځانته جلا څیړنه غواړي نو له تفصیل څخه یې ډډه کوم. تر کوم ځایه چې په پټه خزانه پورې اړه لري دا یو مستند او معتبر کتاب دی او په هر ځای کې پر خپلو ماخذونو یا روایاتو حواله ورکوي.

## لیکدودي (املایي) ارزښت:

پټه خزانه د لیکدود له مخې یو ممتاز اثر دی. البته په یقیني توګه نشو ویلی چې نور محمد خروټي به کټ مټ د محمد هوتک لیکدود را اخیستی وي او بیا به محمد عباس کاسي هماغه لیکدود د امانت په توګه ساتلی وي خو دومره حدس وهلی شو چې تر ډیره ځایه پورې به د اصلي متن لیکدود اقتباس شوی وي. د پټې خزانې وروستۍ نسخه چې په (۱۳۵۴) لمریز هجري کال کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا په آفسیټي ډول چاپ شوې ده، د پښتو ژبې له اوسني معیاري لیکدود سره پوره ورته والی لري. کوم لوستونکي چې له اوسني لیکدود سره آشنا وي د پټې خزانې په لوستلو کې له خنډونو او مشکلاتو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

سره نه مخامخ کېږي. په پټه خزانه کې د اوسني (يې) په ځای يوازې (ی) ليکله کېږي لکه په دې عبارت کې: «ځکه ی نو کروړ باله چه معنی ی ده کلک او سخت...»
د (په) کلمه په اکثرو ځايو کې له نورو کلمو سره ګډه ليکل شوې ده لکه: پغور او بالشتان او بست کې (په غور ...)، پاصل (په اصل)، پخوړو خبرو پالي (په خوړو خبرو پالي)، او داسې نور. په ځينو نورو مواردو کې (په) جلا ليکل شوې ده، لکه: په دی پوه سی، انشراح به مومی، په دغه کتاب ... خو عمومي تمايل دا دی چې (په) له نورو کلمو سره يوځای وليکله شي. په همدې ترتيب په ځينو نور کلمو کې د ترکيب خوا ته تمايل ليدل کېږي ، لکه:
تخو (ته خو)، تی (ته يې) (۱)، نو (نه و) او نور.
د پښتو په لرغونو متونو او په تيره د اشعارو په ديوانونو کې د (ه) په ځای د زور وراچول او يا د (ه) حذفول يو تامل غوندې راغلی دی خو په پټه خزانه کې معمولاً (ه) ليکله کېږي او په ډېرو لږو ځايونو کې غورځېدلې ده چې يو څو مثاله يې: دا دي:
«لډير ده چه په ويلو د داسی وينا بخت يم» دلته د (ر) په سر يو زور ليکل شوی دی، لاسون (لاسو نه)، درهمون (د رهمونه) او داسې نور.
اما وروستني دوه مثالونه له شعرونو څخه راوړل شوي دي او زيات احتمال دا دی چې محمد هوتک به خپل عندي ذوق د ترديف د عنعني تابع کړی وي. په عمومي ډول، د پټې خزانې ليکدود په دې ټاکلی مورد کې له اوسنی بڼې سره سمون خوري، دا هم بايد وويل شي چې تر اوسه پورې مونږ پخپله هم ټول ليکدودي پرابلمونه نه دي حل کړي، کله کله چې نسبي يووالي ته نږدې شو بيرته ګډوډې پکې راشي.

## لغوي ارزښت:

پټې خزانې يو شمېر نره او ارکايک لغتونه خوندي کړي دي چې ځينو يې ليکني ادب او ژورنالستي خپرونو ته هم لاره موندلې ده، لکه: اتل (قهرمان)، پرتمين (مجلل)، ښکارندوی (نماينده، مظهر)، وياړنه (فخريه، حماسه)، هسک (آسمان)، سوب (حاضر)، سوبه (فتحه او ظفر)، ايواد (چې د هېواد په بڼه ليکل کېږي ـ وطن)، يون (تګ)، غبرګون (جواب)، څلوريزه (رباعي)، ښکلا (حسن او ښايست)، ځری (قاصد)، دريځ (منبر، اوس زياتره د موقف په معنا استعماليږي)، بولله (قصيده)، برم (شان او شوکت)، پلاز (تخت)، مرينه (مرګ، وفات)، ويرنه (مرثيه)، ښکلل (آراستن و پيراستن)، چونی (بلبل)، نيلی (آس)، جګړن (جنګاور)، پرتم (جلال)، ځپان (مواج)، ختيځ (شرق، خاور)، لويديځ (غرب، باختر)، يرغلګر (متجاوز)، وګړي (خلک، مردم)، رپی (بيرق)، ګروه (عقيده)، تورن (متهم)، لرغون (قديم، باستان) او داسې نور.
د پټې خزانې يو شمير شعرونه تقريباً په بوبه (خالصه) پښتو ويل شوي دي او په هغو کې د پرديو او دخيلو کلمو اغيزه نشته يا ډيره لږه ده، لکه د امير کروړ وياړنه، د بابا هوتک سندره، د ملکيار سندره د اسماعيل نيکه نارې، د خرښبون غبرګون، د شيخ متی مناجات، د شيخ اسعد ساندې، د ښکارندوی بولله او داسې نور. د دې شعرونو لغتونه اوس د پښتو ژبې ويې پانګه ګڼل کېږي چې ځينې ويې يې بيرته ژوندی شوې دي او پاتې يې د ارکايک لغتونو په بڼه ثبت شوې دي.
د پټې خزانې د ځينو شاعرانو نومونه هم پښتو دي، لکه کروړ (چې کلک او سخت ته وايي)، خرښبون، متی (په ملينه ی، د خوست په لهجه کې هغه چا ته ويل کېږي چې په مندی کې ډېر تيز وي او څوک يې نشي نيولی) او ځينې نور. برسيره پر دې، دا هم د يادونې وړ ده چې په پټه خزانه کې د ځينو ماخذونو نومونه هم په پښتو دي، لکه: د خدای مينه د سالو وږمه، او لرغوني پښتانه.

## ادبي ارزښت:

د پټې خزانې ادبي ارزښت دوه اړخه لري: يو د شعرونو او بل پخپله د کتاب د نثر ارزښت. لومړی به د اشعارو خزانه وګورو او خصوصيات به يې ښکاره کړو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**الف:** د پټې خزانې اکثر شعرونه د پښتنو د ټولنيز ژوند او طبيعي چاپېريال اصلي ځيره انځورو‌ي او داسي ښکاري چې د لرغونو آريايانو د سندرو او بوللو روحيه به د پيړيو په اوږدو کې د پټې خزانې د ماخذونو تر دورې پورې رارسيدلي وي، د پښتو لرغوني شعرونه د مضمون او شکل له مخې د نورو ژبو د ادب تر اغيزې نه دي راغلي، بلکه د پخوانيو آريايانو د ادب له ريښې څخه خړوب شوي دي.

د مثال په توګه، د امير کروړ، بابا هوتک، ملکيار، خرښبون، اسماعيل نيکه، او شيخ تيمن شعرونه د مضمون له حيثه غنايي (ليريک) او د شکل له نظره ځانته بحور او اوزان لري چې د عربي او دري له شعرونو سره د پرتلنې وړ نه دي او له بيلي ستې څخه راوتلي دي. د پښتو لومړی شعر چې د پټې خزانې په استناد زموږ لاس ته راغلی دی هغه د امير کروړ شعر دی چې په دوهمه هجري پيړۍ پورې اړه لري. د دې شعر له پوخوالي څخه مالومېږي چې له اسلام نه په مخکې زمانه کې هم پښتو ژبه د شعر او ادب له پلوه بډايه او شتمنه وه او ځانته مخصوص بحور او اوزان به يې درلودل. د سليمان ماکو (تذکرة الاوليا) هم دا خبره اثبات رسوي چې د اوسني پښتو په کلاسيکه دوره کې پښتو ژبې ځانته خپلواکه ادبي لاره درلوده او د پښتو شعرونو د نورو ژبو تر اغيزې لاندې نه وو راغلي.

د (بيټ نيکه) دا شعر:

دلته دي د غـــــرو لمنې | زموږ کېږدۍ دي پکښې پلنې
دا وګړي ډېر کړي خدايه! | لـــويه خدايـــه، لويـه خدايه!

د(ريګ ويدا) له مناجاتو سره د موضوع له حيثه ډېر نږديوالی لري. د (ريګ ويدا) په اووم باب، شپږم فصل، او شپږمه اوومه فقره کې داسې مناجات راغلي دي: «لوی ښتن د ژوند بخښونکی او مالک الملک دی، خلکو ته نجيبي کورنی وربخښي. ای خدايه، مونږ هم ستا بنده ګان يو، بې اولاده مو مه مړه کوه!» (۲)

**ب:** د پټې خزانې د لومړۍ خزانې شعرونه ساده، روان، او غالباً د ژوند له ورځنيو چارو او اړتياوو سره تړلي دي. په دوهمه خزانه کې د تفنن برخه هم پسې زياته شوې ده او په دريمه خزانه کې چې ښځې شاعرانې معرفي شوې دي زياتره د ديني احکامو، پند او حکمت خبرې راغلي دي.

د لومړۍ خزانې ډېر ښکلي شعرونه هغه دي چې شيخ متی، شيخ اسعد سوري، ښکارندوی، او زرغون خان نورزي ويلي دي. د شيخ متی په شعر کې د وحدة الشهود فلسفه د طبيعت په هينداره کې منعکسه شوې ده. (۳) په دې شعر کې د طبيعت ښکلا په زړه وړونکو الفاظو او خوږو تشبيهاتو کې افاده شوې ده. د شيخ متی شعر د مضمون په لحاظ د مولينا جلال الدين بلخی د (بشنو از نی چون حکايت ميکند) له عرفاني مشرب سره شباهت لري خو د ويلو طرز او سبکونو يې يو شانته نه دي. د شيخ متی ښکلی او زړه وړونکی شعر پر انګريزي ژبه هم ژباړل شوی دی او د نړيوالو شعرونو په کتار کې درېدلی دی. د زرغون خان د ساقي نامې شعرونه هم د پښتو له خورا ښو شعرونو څخه شميرل کيږي. په دې شعر کې د ساقي د تشويق د پاره هيجاني صحنه انځور شوې ده. د دې شعر يوه غټه ښيګڼه دا ده چې هيڅ ډول
زايد او له موضوع نه د باندې لفظ پکښې نه ليدل کيږي، هره کلمه، هره مصرع او هر بيت، لکه د مرمريني مجسمې غړی په خپل ځای کې واقع شوی دی. که څوک وغواړي چې له دې شعر څخه څو بيتونه انتخاب کړي نو دا به مشکل کار وي ځکه چې ټول بيتونه يې د انتخابيدو حق لري.

په لومړۍ خزانه کې د خوشحال خان خټک او رحمان بابا، په شان نامتو شاعرانو شعرونه هم راغلي دي چې له تعريف څخه بې نيازه دي. په دې خزانه کې د موضوعاتو تنوع دا را ښيي چې پښتو شعر يوازې تغزل ته نه دی وقف شوی، بلکه په هغه کې د ژوند هر ډول پېښې منعکسې شوي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

## دوهم د پټې خزانې نثر:

که چیرې د پټې خزانې نثر د هغه وخت د ادبي چاپیریال په هینداره کې وګورو ویلی شو چې د دې کتاب نثر ډېر روان، خوږې محاورې ته نږدې او فصیح دی. د پټې خزانې سبک نه یوازې د روښاني سبک څخه په مراتبو بهتر دی، بلکه د خټکو د مکتب په نسبت هم ځینې ښېګڼې لري. د محمد هوتک په نثر کې تکلف، تکرار، سجع، تعقید، ابهام او غرابت نه لیدل کیږي. د محمد هوتک د نثر یو لوی صفت دا دی چې واقعاً د خلکو ژبه او د ورځنۍ ژبې محاوره استعمالوي، او دا یو داسې صفت دی چې حتی د نن ورځې اکثره لیکني (د دې مقالې په ګډون) هم له هغه نه بې برخې دي. د ده په وینا کې البته کله کله وړاندې والی او وروسته والی راځي خو ښايي چې د هغه وخت د عالمانو ادیبانو په ژبه کې به تقدیم او تاخیر یو څه عمومیت درلود او قباحت به نه ګڼل کېده. د دې د پاره چې د محمد هوتک د نثر قوت څرګند شي یوه کوچنۍ نمونه را اخلو چې په هغه کې یې یوه علمي موضوع په ډېره سادګۍ شرح کړې ده. که څه هم ژبه یې خالصه نه ده، خو د موضوع حق پکښې په ښه توګه ادا شوی دی:
«په تحفه صالح کې راوړی چې شیخ به خپلو مریدان ته هدایت کا او وعظونه او د سوالونو ځوابونه به یې ویل او د تصوف مشکلات به یې حل کول. یوه ورځ سوال ځنې وسو چې «پس ترا هر لحظه مرګی رجعتی است؟ مصطفی فرمود دنیا ساعتی است.» څه مقصد لري؟ زموږ مرګ و رجعت کله دایم او مستمر وي؟ او که دا مرګ و رجعت دایم او مستمر وي نو به حیات بعد الممات متعدد سی او د تناسخیانو عقدیه به سی. هغه عارف رباني هسې جواب ورکا چې ذات ماسوا دی له بدنه. ذات دایماً ثابت دی او بدن متحلل دی نبي چې وایي: انت انت لابدنک فان بدنک فی التحلیل و لیس عندک منه خبر فانت ورا هذه الا شیا.
دغه مرګ و رجعت بدنی دی نه ذاتی، او هر کله چې تحلل وموند سابقه ذراتونو یې پر ځای دریږي لاحقه ذرات. او همدغه تجدد دی چې د دنیا عدم تحقق ثابتوي او هغه چې مصطفی علیه السلام وویل: (الدنیا ساعة) رښتیا کوی.»
دا د یوې پیچلې علمي موضوع په باره کې د محمد هوتک د نثر نمونه وه. اوس به یې په ادبي برخه کې هم یوه ډېره وړه نمونه راواخلو. د ملا محمد صدیق پوپلزي په باره کې وایي:
«عشقي ځوان دی او زړه یې له لاسه ایستلی او په خپل محبوب پسې ژاړي، زاري کا، ګریاني کا، دردمن زړه لري او سترګې د اوښکو ډکې لري مینې هسې په اور سوی دی چې له کوره کلي ورک وي، سوزناکې بدلې لولي. او کله چې د دردمندانو په ډله کښیني مجلس ژړوي او غمجن زړونه په خپلو نارو ـ غلبلو سوزي. زمانه د ده پر ځوانۍ افسوسونه کا او عشق یې جنون ته رسیدلی دی. بالبداهه اشعار وایي او د زړه درد په سوده کوي.».

## تاریخي ارزښت:

له پټې خزانې څخه ښایسته زیات تاریخي معلومات هم تر لاسه شوي دي. د مثال په توګه، د پټې خزانې په استناد ویلی شو چې په غور کې پښتنو امیرانو واکمني کوله. برسیره پر دې چې امیر کروړ پخپله شاعر و د غوریانو په درباررونو کې پښتانه شاعران پالل کیدل چې شیخ اسعد سوري او ښکارندوی یې غوره استازي دي.
په غور کې ډېر امیران وو چې د هغو له جملې څخه د امیر کروړ نوم په تاریخونو کې نه و ښکاره. همدارنګه په پټه خزانه کې د پښتنو د مشهورو نیکونو شجرې او له پردیو یرغلګرو سره د هغو د مقابلې په باب هم ډېر معلومات تر لاسه شوي دي.
پټه خزانه د هوتکیانو د تاریخ په باره کې ثقه او نوي معلومات وړاندې کوی. په تیره د شاه حسین هوتکي د دربار د شاعرانو، عالمانو او د هغه وخت دعلمي آثارو په برخه کې پټې خزانې ډېرتیاره او پټ ګوټونه روښانه کړي دي. له پټې خزانې څخه د ځینو قبیلو د ژوند او د هغو د لیږدیدنو په باره کې هم ځینې معلومات لاس ته راغلي دي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

له همدې کتاب څخه د پښتنو د معاشرت طرز، د ښووني او روزني نصاب، فرهنګي منابعاو ثقافتي ارزښتونه هم په ښه توګه استنباط کيدی شي. پټه خزانه دا واقعيت راسپړي چې د غوريانو، لوديانواو هوتکيانو په دربارنو کې پښتو ادب ته هم پاملرنه کيده او د دغو کورنيو ځينو واکمنانو، لکه امير کروړ، سلطان بهلول لودياو شاه حسين هوتک پخپله هم پښتو شعرونه ويلي دي. له پټې خزانې څخه دا خبره هم څرګنديږي چې پښتنو ښځو هم زمونږ په فرهنګي مواريثو کې ستره ونده اخيستې ده. دا د مورخينو دنده ده چې د پټې خزانې ټول تاريخي اسناد په جلا توګه وڅيړي او د پښتنو د تاريخ په روښانه کولو کې ترې استفاده وکړي.

## کلتوري ارزښت:

لکه مخکې مو چې وويل پټه خزانه د شاه حسين هوتکي د واکمنۍ په دوره کې او د هغه په تشويق ليکل شوې ده. د شاه حسين پلار ـ حاجي ميرويس خان - د صفويانو له منګولو څخه خپله خاوره آزاده کړې وه او د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ او ملي دولت د جوړيدو د پاره ک، لکه مبارزه روانه وه.
د دغو تلاښونو په ترڅ کې د فرهنګي او کلتوري اصالت د خونديع کولو د پاره آګاهانه او شعوري مبارزه پيل شوې وه چې مرکز يې پخپله د شاه حسين هوتک دربار و. شاه محمود او شاه حسين دوه ورونه وو چې لومړي توري ته لاس اچولی و او دوهم قلم ته پاملرنه کړې وه. د شاه حسين هوتکي د خدمتونو په باره کې ويلي شو:
«خوش درخشيد ولی دولت مستعجل بود.» محمد هوتک د پټې خزانې مولف په دوهمه او دريمه خزانه کې دا څرګندوي چې په دې وخت کې کندهار د علم او ادب په آسمان کې ډير رانه ستوري وځلول. هر څوک په آسانۍ سره حدس وهلی شي چې د هغه وخت په شرايطو کې محمد هوتک ولې په ادب او فرهنګ کې د اصالت او سوچه توب خوا ته مايل او راغب دی او تر ممکنه حده پورې يې خپل اثر د نورو ژبو له اغيزې څخه ليرې ساتلی دی. په پټه خزانه کې د يوه داسې تبر د هيواد پالني احساس څرګنديږي چې نوی په پښو دريږی او د خپل تشخيص او تبارز د پاره ګام پورته کوي. د پټې خزانې کلتوري مشخصات دا دي:

۱ ـ دا څرګنده ده چې د پښتنو قبيلوي نظام د جرګو له لارې اداره کيده. حتی د احمد شاه غوندې مقتدر پاچا به هم له قومي مشرانو سره يوځای پر فرش کښيناسته او د هغو په سلا او مشوره به يې کار کاوه. په دې ډول نظام کې ولسي مشران مجبور دي چې د خلکو رضايت په نظر کې ونيسي او هميشه له رواجي عدالت څخه کار واخلي. امير کروړ سره له دې چې د خپل زور او قورت په باره کې وياړنه وايي خو په عين زمان کې د خپل ولس او قبيلې سره د ښو تعلقاتو يادونه کوي او داسې وايي:

خپلو وګړو لره لور پيرزوينه کوم
دوی په ډاډينه ښه بامم ښه يې روزنه کوم
تل يې ودنه کوم        له ما اتل نسته

سلطان بهلول لودي هم په خپله معروفه رباعي کې د عدل او انصاف په باره کې خبرې کوي له چې وايي:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه
ګوره وريځې د داد له پاسه
خــول مې د عــدل په درو رون دی
جهان زيب مومي زما له لاسه

۲ ـــ د دې په مقابل کې ځينو شاعرانو هم د پاچهانو او واکمنانو مدحې ويلي دي خو داسې ښکاري چې دغه مدحې له يوه اجتماعي احساس او د قوم پالنې له روحيې څخه منشا اخلي. په کوم صميميت چې مدحيه شعرونه ويل شوي دي په هغو کې د صلحې او بخششونو د غوښتنې د پاره ګنجايش نه پاتې کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که شاعر د واکمن په مړينه ساندې وايي نو د ده د وير او ژړا علت دا دی چې قوم د دفاعي سنګر يو توريالی سرتيری او د خلکو يو خوږ او مهربانه دوست له لاسه ورکړی دی. د مثال په توګه، د شيخ اسعد سوري د ويرنې دا څو بيتونه ولولئ:

چې بـــــه نجليو پـــــه نخـــــا پکې خندله
چـــې پـــــه پيغلـــو کـــا اتڼ قطـــار قطـــار
هغـــه غور په وير ناتار د واکمـــن کښينوست
هغـــــه غـــور سو د جـــــاندم غوندې سور
سخ په تا ای محـــــــــمده د غـــــور لمـــــر وې
په نړی بـــــه نـــــه وې ستا د عـــــدل سار
ته پر ننګـــــه وې ولاړ په ننګ کې مړ سوې
هم پر ننګه دې په ننګه کا ځـــــان جـــــار
که سوري دې په تګ وير کاندي ويرمن سول
هم بــــــه ويارې ستا په نـــــوم ستا په تبار

په همدې ترتيب د ميرمن زينب ويرنه چې د شاه محمود د هوتک په مړينه يې ويلې ده د همدغې روحيې نماينده ګې کوي.
موږ د دغې سوزناکې ويرنې څخه پوازې يو بند راخلو.

لښکر سو خپور پښتون ولاړ دی آريان
په خاورو ځای کا شاه محمود عاليشان
پاتې سو تاج و تخت د ټول اصفهان
زړه يې راسوړ سو کا خوښي دښمنان
وايي پښتون اوس بې پاچـــــا سونا
کندهـــــــــــار واړه په ژړا ســـونا

۳ ـ په هره ژبه کې عشقي شعرونه د ادب يوه عمده برخه تشکيلوي خو د مينې د څرګندولو د پاره هر ادب ځانته ټاکلې کلتوري حدود لري.
په پښتني کلتور کې له ټاکلې چوکاټ نه د باندې وتل هر چاته په ډير ګران قيمت تماميږي چې په دې قيمت کې نه يوازې د حيثيت، بلکه د سر سودا هم شامله ده. په دغسې تولنيز چاپيريال کې چې پر نامشروعو جنسي روابطو باندې سخت بنديزونه لګيدلي دي، اکثر عشقونه رمانتيکي بڼه پيدا کوي. د پټي خزانې په اکثرو عشقي شعرونو کې د اوښکو، ژړا، فريادونو او غلبلو کاروان روان وي. حتی د سيدال خان ناصر غوندې سپه سالار هم د ليونتوب خبرې کوي:

مين په لويو غرو ځې سر تور په نيمو شپو ځې
ووزي له وطنه، وطن پرېږدی پر چولو ځې
فريادونه ناري وکا په ناورين په غلبلو ځې
ناري وهم عالمه د شپې تر صبحدمه
ناتوانه د بيلتون يم يو ګړی نه لرمه دمه
بې تا مې نفس خيژي راځه زما د زړه همدمه

البته دا يوه نمونه وه. په نورو شعرونو کې هم ډيرې اوښکې څڅيدلي دي چې پخپله شاه حسين پاچا هم ترې محروم نه دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د سړیو چي دا حال وي ښځي خو د عشق نوم قدرې هم په خوله نشي اخیستلی او که فرضاً د عشق نوم هم واخلي هغه به مجازي نه وي، بلکه حقیقي به وي، لکه حلیمه چي وایي:

چي مجاز مي د آیاز ولاړی له زړه نه
سربلنده تر محمود غوندې سلطان شوم

له همدې امله د ښځو شاعران اکثر شعرونه تصوفي، مذهبي او د پند او حکمت خبرې دي.
۴- په پښتو ادب کي د حماسي اشعارو پله ډېره درنده ده. د پښتو د فولکلوري ادب دوې عمده موضوعګاني توره او مینه دي. په لیکني ادب کي هم د حماسي اشعارو برخه شته چي زیاتره یې د خوشحال خان په دیوان کي لیدل کیږي. د پټي خزانې په اشعارو کي هم ځیني حماسي اشعار راغلي دي، لکه د ملکیار سندره د امیر کروړ ویاړنه او داسي نور.
۵- میلمه پالنه د پښتنو یو بل بارز صفت دی. البته د ډوډۍ او میلمستیاوو موضوع معمولاً په شعرونو کي نه راځي او که کوم شاعر دا کار وکړي ښایي د خیټه ور شاعر په نامه شهرت ومومي. سره له دې، په پټه خزانه کي د مطایبې په بڼه یوه قصه راغلي ده او هغه داسي ده:

## لطیفه

کله له کلاته ملا باز راغی او په کندهار کښي زما میلمه شو. دستي ما چرګ حلال کا او طعام مي تیار چي دسترخوان راغی ملا باز هسي شعر ووایه:

پر کورو یي رمي ګرزي　　　　د باز برخــــــه یــــو چیچی دی
د باز ښکار وي د وي د غرڅنو　　　　اوس مي بس هغه سپینکی وری دی

ما زر هغه سپین وری هم حلال کا او د میلمه میلمستیا ته مي پوخ کا.
* تاسي وګورئ چي «انجیل» د خدای سپیڅلی کلام په دې عبارت پیل کیږي: «او په لومړي سر کي وینا وه.»
د قرآن کریم لومړی آیت دا دی:

« اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ». د شیخ سعدي بوستان په دې بیت سره شروع شوی دی:

بنام خداوند جان آفرین　　　　حکیم سخن بر زبان آفرین

او د شیخ بایزید انصاري (پیر روښان) خیر البیان هم په دې عبارت پیل شوی دی:

«اکتب علی بدایة الکتاب ... » او په پښتو کي: «وکښه په آغاز د کتاب په ښه درست حرفونو بسم الله.»
** داسي ښکاري چي محمد هوتک د شاعرانو په باره کي د «اپلاتون» یوناني فیلسوف نظر په توله معنا نه تعقیبوي. د محمد هوتک له خوا چي کوم شاعران په پټه خزانه کي معرفي شوي دي اکثر یې د کراماتو خاوندان دي. د «اپلاتون» په نظر شاعران ځیني ښه دي او ځیني یې بد مګر پخپله شعر آسماني عطیه ده او د شاعر له شخصیت سره مستقیمه اړه نه لري «اپلاتون» تعجب کوي چي څنګه ځیني ناپوه او عادي کسان دومره ښکلي او زړه وړونکي شعرونه ویلی شي چي حکیمان او فیلسوفان یې له ویلو څخه عاجز دي. له دې څخه «اپلاتون» دې نتیجي ته رسیږي چي شعر د الهام په توګه پر عادي خلکو باندې هم نازلیدی شي. د ده په عقیده، هر ځلې چي شاعر موږ ته زړه وړونکی او ساحرانه شعرونه لولي او زموږ جذبات راپاروي نو دوی په حقیقت کي د هنر د رب النوع د ګلانو له باغ او د شاتو له فوارې څخه خپلې سندرې راټولوي او موږ ته یې وړاندې کوي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

محمد هوتک هم شعر الهام ګڼي خو دغه الهام يوازې هغو کسانو ته کيږي چې وړ او مستحق يې وي.
دا خبره د ده له سريزې او همدارنګه د لرغونو شاعرانو له ژوند پيښنو (بيوګرافي) څخه په ښه توګه جوتيږي.
په «پټه خزانه» کې شاعران عادي خلک نه دي، بلکې اکثر يې د کرامت خاوندان، تاريخي اتلان او حماسه جوړونکي، يا متقي او پرهيزګاره عالمان دي.
*** د شعر د هدف او وظيفې په باب له لرغونو وختو تاوده بحثونه پيل شوي دي او ډير کتابونه پرې کښل شوي دي. محمد هوتک پدې برخه کې يو جامع نظر وړاندې کړی دی. د ده دغه مفکوره چې شعر د خوږو زړونو مرهم دی د يوناني فيلسوف «ارسطو» catharsis نظريې ته ورته دی. «ارسطو» وايي چې د تراژيدي په واسطه د انسان روح سپيځلی کيږي او روحي آلام يې تسکين مومي.

۱ ـ د کندهار د محاورې سره سره ليکل شوې ده.
۲ ـ د پوهاند حبيبي په حواله، پټه خزانه، د تحشيې او تعليق برخه د اطلاعاتو او کلتور چاپ ۱۳۵۴، مخ ۲۶۵ .
۳ ـ د يوه بيت څخه يې چې وايي: « لويه خاونده تړوله ته يې» د وحدة الوجود عقيده هم څرګنديږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ